سمیع الدین افغانی ۲۰۱۵/۱۲/۱۲

# نور به ایمان په گمان نه بدلوو

مشري د پوهې ،صداقت موخه وي
خلکو ، ولس ته د خدمت موخه وي

خو زمونږ هر مشر پیمان یادوي
ښکلي ژوندون د هر افغان یادوي

وایئ چي مونږ ه دا وطن جوړوو
مونږ به دپلار ، نیکه مدفن جوړوو

دا سي اساس دا برنامه لرو مونږ
ټینګ مو تکل دی اراده لرو مونږ

بس پس لدې به دا وطن جوړيږي
زمونږ د نیکونو دا مدفن جوړيږي

مونږ به سیندونه سر بندونه جوړ کړو
دښتې ، بریښنا او پلچکونه جوړ کړو

هریو افغان ته به روزګار پیداشي
اهل د کار ته به بیا کار پیدا شي

وران مالتونه به اباد شي زمونږ
هر خوا ورورۍ او اتحاد شي زمونږ

خو چي بیا کله اقتدار پیدا کړي
چي شي حاکم او اعتبار پیدا کړي

ګوری چي سر یې بل ګریوان نه وځي
د افغانیت نوم او نشان نه وځي

څوک دي ګاونډ سور اشغالګر روزلي
څوک پنجابي لوی ترهګر روزلي

څوک بیا اخوند سره پټ لاره لري
تعصب ، عقده له بد روزګاره لري

څوک د شیخانو نه پیسي تولوي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولــئ

د دین په نوم ورځې چندې ټولوي

دلته ته د زړه نه هیڅ چا کار ونه کړ
هیڅ یو زعیم کوم ابتکار ونه کړ

هر یو په فکر د خپل ځان شو دلته
د شخصي ګټو نګهبان شو دلته

اوس هم د خدای در نه نا هیلي نه یو
د خپل وطن سره بې مینې نه یو

چې که لوی خدای شي مهربانه په مونږ
دا ستونزې ، سختې شي اسانه په موږ

اوس افغانان پدې پوه شوي تمام
دوئ نور د خوبه را ویښ شوي تمام

نور به د تیرو نه عبرت اخلو مونږ
د مشر نوم به په عزت اخلو مونږ

په انتخاب به ایمان نه هیروو
نور به ایمان په ګمان نه بدلوو




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ